# سوات کښې د پښتو ژبې او ادب
# په پرمختګ کښې د ادبي ټولنو کردار

# The Role of Literary Organizations and Councils in the Promotion of Pashto Language and Literature in Swat

Sher Zaman Seemab [1], Attaur Rahman Atta [2]

The tradition of Pashto literary organizations and literary councils has long alive among Pashtoon communities which by the passage of time further increased many folds. By all definition, if on one hand, these organizations and councils played significant role in the advance ement, promotion and evolution of Pashto language and literature, on the other hand the literary furor and commotions also flourished, inspired and retooled people thus raising their tastes to the level of consummate elegance. Presently, numerous literary organizations and counsels exist in every nook and corner of Pashtoon regions. In Swat, like other Pashtoon areas, also flourished with numerous literary organizations and literary counsels, providing a verity of resources that can be helpful to the writers and poets. This research paper assesses and evaluates the literary services of these organizations and counsels in swat. It also attempts to highlight how these organizations and councils have helped to cultivate the artistic and professional growth of the poets and writers. The study also takes into consideration and cursorily points out the hindrances that these literary organization and literary councils have faced time to time.

**Keywords:** Swat, Literary Organizations, Literary Councils, Pashto Language and Literature, Literary Organizations of Swat.

په ټولنه کښې اوسېدل او ژوند کول د انساني نوغي مجبوري ده- انسان ټولنيز ساکښ دے ـ د خپل فطرت، ضرورتونو او مجبورو له کبله ټولنه جوړوي او ژوند پکښې کوي ـ د خپلو نور هم جنسو سره مرسته کوي ـ دهغوي ضرورتو نه پوره کوي او دغه رنګ دهغه نور هم جنس د هغه سره مرسته کوي او دهغه ضرورتو نه هم پوره کوي ـ يو وګړے چرته هم د ټولنې نه جدا او ځان له خوشحاله، سوکاله او مطمئن ژوند نۀ شي تېره وے. انساني ټولنه د يوشمېررنګا رنګواو تنوع مجموعه وي

1 Assistant Professor, Pashto Academy UOP
2 Lecturer, GPGC(Jahanzaib College) Swat.

چې پکښې هر وګړے، ډله، طبقه، پېشه او درجه خپل کردارلوبوي او ټولنه روغه، جوړه، ژوندۍ او روانه ساتي ټولنه د وړوکي نه وړوکي او غټ نه غټ کردار دارزښت نه انکار کوي او نۀ کوے شي . انساني ټولنه د انسانانو داسې ډله وي چې يو ځائے په یوه خاصه جغرافيائي سيمه کښې ژوند تېره وي ـ مشترکه تهذيب او کلتور لري د يو مشترکه قانون او ضابطې پاسداري کوي . شريک مفادات لري او تر ډېره حده پوري ئې ګټې او زيانونه هم مشترک وي . د پښتو د توري ټولنې لپاره د انګريزۍ تورے Society پکاريږي . په www.references.com کښې د توري"Society" تعريف داسې ورکړے شوے دے

> "Society describes a group of people who share similar values, laws and traditions living in organized communities for mutual benefits. Members of society often share religions, politics, or cultures"1

هم دغه رنګ د انګريزۍ په بل لغت کيمرج ډکشنرۍ کښې د لفظ سوسائټي تعريف داسې ورکړے شوے دے

> "A large group of people who live together in an organized way, making decisions about how to do things and sharing the work that needs to be done. All the people in a community, or in several similar countries, can be referred to as a society". 2

د انګريزۍ ژبې دغه لفظ Society د لاطيني توري "Socious"نه اخيستے شوے دے چې معنې ئې ټرون او ملګرتياده .هم دغه وجه ده چې د ټولنې نه به مراد ارومرو دوګړو هغه لويه ډله وي چې د يو بل په ملګرتيا کښې د يوبل سره تړلے شوے وي هم په دغه اړه په www.studylecturenotes ليکلے شوي دي:

> "This form has been derived from a Latin word" socious" that means association or companionship. This society means "A large group of individuals, who are associative with each othes.3

د ورکړے شوؤ حوالونه دا خبره جوتېږي چې ټولنه د ملګرو او تړلے شوؤ وګړو او افرادو داسې لويه ډله وي چې د شريکو مفاداتو له پاره کارکوي او ترډېره حده ئې مقاصد منزل او مرام يو وي دلته بايد د ټولنې يو څونو تعريفو نه هم وړاندي کړے شي چې مفهوم ئې نور هم واضحه اوښکاره شي ـ"Prof wright" دټولنې يا"Society" تعريف داسې کوي

> "It is a system of relationship that exists among the individuals of the group.4

دغه رنګ "Linton" ترڅه حده پوري دټولنې او "Society"يو کوټلے او جمع تعريف کړے دے.

"Any group of people who have lived and worked together long enough to get themselves as a Social unit with well-defined limits"5

هم دغه رنګ "A.W Green"لیکي :

"It is the largest group in which individual have relationships".6

د ورکړے شوؤ اقتباسونو نه چې د ټولنې کوم تصور مخې ته راځي هغه د عملي انساني ټولنې تصور دے او دغه تصور په خپل ذات کښې پوره وسعت او همه اړخېزې لري دغه تصور د غټ مرام طرف ته فکر بوځي او انسانی ټولنو نه چاپېره چورلي خو دغه غټې ټولنې په ځان کښې د نه لوئې ورې نورې ټولنې هم لري دغه ورې ډلې او ټولنې ظاهره ده چې د انساني وسیعې ټولنې په مقابله کښې پخپله محدودې هم وي او دغه رنګ د دغه ډلو او ټولنو هدفونه مرامونه او مقصدونه هم محدود وي او د ټولنې غړې هم د دغه مشترکه مقصدونو د ترلاسه کولو لپاره هلې ځلې، زیار او مبارزې کوي دغه ټولنې چې د عامې انساني ټولنې (معاشري) په مقابله کښې محدود مقصدونه لري - د تنظمونو په نوم پېژندے شي په انګریزۍ کښې تنظیم لپاره د Organizationاصطلاح کار وے شي . د"Organization" هم معني توري په انګریزۍ کښې دا دي:

"Company, firm, concern, operation, cooperation, institution, group, establishment, consortium, Body agency, federation, association, league, club, organization".

او داسې نور دغه ورکړے شوي ټول اصطلاحات د"Organization"د اصطلاح هم معني او مترداف ګڼلے شي چر ته چرته دغه اصطلاحات د لږ ډیر فرق سره هم کاره وے شي د دغه تورو لپاره زمونږ سره په پښتو کښې په عمومي توګه د تنظیم، ډلې، جرګې، ټولنې، ادارې، موسیسې، ګوند وغېره توري کاروے شي په اصطلاحي معنواو تعریفونو کښې ئې هم تر ډېره حده مماثلت او یو شان والے موندے شي په انګریزۍ ویب پاڼه د"Organization" تعریف داسې ورکړے شوے دے:

"An organized group of people with a particular purpose, such as a business or government department. 7

هم دغه رنګ د انګریزۍ په بل لغت "Business Dictionary" کښې د "Organization" تعریف داسې ورکړے شوے دے :

"A social unit of people that is structured and managed to meet a need or to persue collective goals. All organizations have a management structure that determines relationship between the different activities of the members and subdivides and assigns roles, responsibilities, and authority to carry out different tasks. Organizations are open system. They affect and are affected by their environment.8

مونږ وئیلے شو چې تنظیم یا ټولنه د منظمو خلکو داسې ډله وي چې د خاصو هدفونو، مقصدونو او مرامونو لپاره د يوې خاصې ضابطې د لاندې په يوه خاصه طريقه کار کوي د يو بل سره د يو خاص قانون د لاندې مرسته کوي او د بيلابيله سرګرمو د لارې دغه شريک مقصدونه ترلاسه کوي په يوه اره تنظيم د عامې انساني ټولنې نه محدود وي او په بله اره تنظيم يو ډېره پراخه جوړښت هم لري ځکه چې په دې کښې د جغرافيئې تهذيب، کلتور، ژبې او مذهب څۀ خاصه پابندي نۀ وي په بيلا بيله سيمواو وختونوکښې د خپلو مقصدونو او هدفونو لپاره بيلابيل تنظيونه او ټولنې په وجود کښې رائحي دغه تنظيمونه د خپلو مقصدونو او هدفونو مطابق جدا جدا وي ـ

## د تنظيمونو قسمونه

۱: سياسي تنظيمونه ۲: معاشي تنظيمونه

۳: فلاحي تنظيمونه ۴: مذهبي تنظيمونه

۵: پشه ورانه تنظيمونه ۶: د طالب العلمانو تنظيمونه

۷: هنري تنظيمونه ۸: کلتوري تنظيمونه

۹: ادبي تنظيمونه او داسې نور

ادبي تنظيم چې په بيلا بيله نومونو يادېږي په اصل کښې د دغه تعريف د لاندې رائحي کوم تعريفونه چې د تنظيم يا Organization په اره ورکړے شوي دي ـ فرق صرف دومره دے چې د ادبي تنظيم يا ټولنې او يا که په بل څه نوم ياد وي غړي د يو خاص ضابطې د لاندې په يوه خاصه طريقه کار کوي د يو بل سره مرسته کوي د يو بل سره په ګډه کار کوي او هدفونه او مرامونه ئې ادبي وي ۰

ادبي تنظيم په ادب کښې د دلچسپي لرونکود داسې خلکواو ادب ليکونکو ډله او ټولنه وي چې په ادب کښې د يو خاص رجحان او هدف د ترلاسه کولو لپاره کار کوي هلې ځلې کوي د مباحثو،مذاکرو او سمينارونو تا بيا کوي او نيوزلټر هم خوره وي په نوي ادبي ټولنو کښې دځيرېنې

لپاره هم کار کېږي او د څېړنو موندنې هم د ادبي تنظيمونو او ټولنو د لاري منتظرنه راوړے کېږي -

> "Literary society is a group of people interested in literature in the modern sense, this refers one genre of literature or a specific writer, modern literary societies typically promote about the chosen and holds meetings where research findings can be presented and discussed".9

دلته دا خبره ښکاره کېږي چې د انګريزي د توري خو اوشا ټولي غوښتنې زمونږ په سيمه کښې موجود ادبي جرګې او ټولنې پورۀ کوي او بيا چې په انګريزئ کښې د Literary Society کوم تصور او تعريف موجود دے خو اوشاء هم دغه تصور او تعريف زمونږ د ادبي جرګو او ټولنو دے فرق صرف دا دے چې زمونږ دهېواد ادبي جرګې News Letters نۀ خورۀ وي دغه رنګ دلته لافضاء د تحقيق او څېړنې نۀ ده نود څېړني موندنې او په هغې بحث هم د ادبي ټولنو او جرګو د کار په دايره کښې نۀ دے راغلے البته نوري ادبي هلې ځلې غونډې او په خصوصي ټوګه تنقيدي غونډې دغه ټولنې په خصوصي توګه کوي او مونږ ويئلے شو چې د لږډېر فرق باوجود د انګريزئLiterary Society زمونږ ادبي ټولنه يا ادبي جرګه ده . دلته بايد دا خبره ياد اوساتلے شي چې د ادبي ټولنو په هدفونو او مقصدونو کښې د وخت او معروضي حالاتو دغوښتنو سره سم بدلون راځي ځکه چې د تنظيم په تعريف کښې دا خبره ډاګي ته شوي ده چې په تنظيمونو د خپل معروضي حالاتو او چاپېريال اثر هم وي او دغه رنګ تنظيمونه او ټولنې خپل معروض او چاپېريال هم متاثره کوي -

## د پښتو د ادبي ټولنو لنډ تاريخ

د پښتو ژبې او ادب د پرمختګ په لړ کښې چې کله مونږ د ادبي جرګو او ټولنو تاريخ ته ځيرکېږو نو په ظاهره دغه تاريخ دومره زوړ او پخوانے نۀ دے د تاريخ په اوږدو کښې مونږ ته ډېر پخواني ادبي تنظيمونه او ټولنې په نظرنۀ راځي چې په باقاعده منظمه توګه ئې د پښتو ژبې او ادب د پرمختګ لپاره کار کړے وي د دې اسباب او وجوهات څه دي - دغه ځانته يو بېل بحث او بله موضوع کېدے شي البته دا خبره ډېره واضحه او ښکاره ده چې د باقاعده تنظيمونو نه وړاندې د داسې شخصيتونو، دربارونو او استانو مثالونه ضرور په لاس راځي چې د پښتوژبې او ادب د پرمختګ لپاره ئې زيار کړے دے دلته دا منل پکار دي چې بې شکه دغه شخصيتونه ،دربارونه او استانې باقاعده تنظيمونه نۀ

وو خو د دې ذکر ضروری ځکه دے چې هم د دغه ځايونو او مرکزونو نه پښتو ليکوالو ته شعور ترلاسه شوے دے او هم د دغه شعور په اساس په پښتو کښې د ادبي ټولنو او جرګو باقاعده جوړښت ته لاره هواره شوي ده ـ دغه دربارونو استانو بې شکه په باقاعده تنظيمي بڼه کښې کار نۀ دے کړے خو عام اولس ئې ادب ته راغب کړے دے او د خپل دور ليکوالو ته ئې موقع په لاس ورکړي ده چې خپل تخلقتونه د يو بل سره او د عام اولس سره شريک کړي په دغه دربارونو او استانو کښې لانديني په خصوصي توګه د ذکر وړ دي ـ

- د روښانيانو استانې او دربارونه
- د والي سوات دربار
- د پير بابا او اخوندرويزه استانه
- د خوشحال بابا او دهغه د خاندان حجرې
- د حافظ رحمت خان روهيله دربار
- د څوکنو د ميا عمر دربار
- د کاکا صېب استانه
- د مردان د شاه محمد خان حجره
- د زيدې د ارسلاخان حجره

په دې اړۀ د پښتو اکېډمۍ پخوانے ډائريکټر پروفېسر محمد نواز طاهرداسې ليکي:

"د پښتو اديبانو د ترويج په لړ کښې د انجمن سازۍ روايت په ظاهره دومره پخوانے نۀ دے ولې بيا هم په ماضي کښې ځيني شخصيات ،خانوادے او استانې داسې په ګوته کېدے شي څوک چې پخپل ذات کښې پخپله انجمن وو" ۱۰

دغه دربارونه او استاني هغه بنيادي مرکزونه دي چې د پښتوادب په ارتقاء کښې مهم کردار لوبولے دے او د اهميت نه ئې انکار نۀ شي کېدے او هم دغه دربارونو او استانو د پښتو ادبي تنظيمونو ته لارۀ هواره کړې ده ـ

ترموجوده وخته پورې د شوې څېړنې ترمخه د پښتو باقاعده اولنے تنظيم يا ټولنه په دولسمه صدئ هجرئ کښې په وجود کښې راغله دا د هغه وخت خبره ده کله چې د قنداهار واکمني د مېروس خان غلجي د زامنونه شاه حسېن ته بدل شوے وه۔ د شاه حسېن زما نه ۱۱۱۴ هـ نه تر ۱۱۵۲ هـ پورې ده ـ هغه پخپله هم شاعر دے په دغه جاويد خليل صېب ليکي :

"که چرې مونږ د پښتوثقافتي تاريخ ته ځير شونو معلومېږي چې د پښتو په سيمه د ادبي جرګو جوړښت د دولسمې صدئ هجرئ نه شروع کېږي " ۱۱

د شاه حسين په دورکښې جوړ شوې دغه ادبي تنظيم ته ادبي دربار ويئل کېده ۰ دغه رنګ په قندهارکښې يو بل ادبي تنظيم هم وۀ چې جوړونکے ئې سردار مهردل خان مشرقي وۀ هغه د فارسئ او پښتو دواړه ژبو شاعروۀ ـ د هغه زمانه د۱۲۱۲هـ نه ۱۲۷۱ هـ پورې ده ـ د دغې ټولنې يا جرګې په اړۀ جاويد خليل ليکي :

"دا جرګه د دريارلسمې صدئ هجرئ په شروع کښې سردار مهردل خان مشرقي ۱۲۱۲ـ ۱۲۷۱هـ ) جوړه کړې ـ" ۱۲

د اولنې دور د دغه جرګو نه وروستو د پښتو ادب په تاريخ کښې د ادبي ټولنو او جرګو د جوړښت په اړۀ اوږده خاموشي ده او دغه خاموشي تر شلمې صدئ پورې رارسېدلې ده د نولسيمې صدئ په اخر کښې چې کله انګريزانو د هېواد نو رو برخو په شان د پښتنو سيمو ته هم د خپل سلطنت د خورولو اراده اوکړه نو د پښتون قام په ژوند ژور اثرات پرېوتل اوګڼ شمېربدلونو نه مخې ته راغلل ۰ دغه بدلونو نه په سياسي، معاشي،علمي او ټولنيزه حواله هم مشاهده کېدے شي او په ادبي حواله هم چونکې دا دورد شعور، پوهې اوتعليم دور وۀ نو ددغه بدلون د اثرلاندې ګڼ شمېر تنظيمونه په وجود کښې راغلل په سياسي حواله دال انډين نيشل کانګرس او د مسلم ليګ تنظيمونه په وجود کښې راغلل او دغه رنګ هم د دغې اثر دلاندې يو شمېر نور هم تنظيونه جوړ کړے شول ـ په خېبر

پښتونخوا کښې په کښې په اتمانزو کښې "انجمن اصلاح الافاغنه" جوړ کړے شۀ او دغه تنظيم د پښتون قام د شعور په بېدارئ کښې بنيادي کردار او لوبلو اکړ چې په اوله کښې دا يو اصلاحي تنظيم وۀ خود غې تنظيم داسې ليکوال او شاعران مخې ته راوړل چې پښتو ادب ئې په هره حواله متاثره کړۀ او د پښتوادب په پرمختګ او ترويج کښې ئې بنيادی کردار او لوبوۀ دغه شان د پښتنو په خاوره نور خلک هم داسې پيدا شول چې باقاعده تنظيم سازئ ته ئې توجه ورکړۀ اوګڼ شمير تنظيمونه په وجود کښې راغلل.

دغه رنګ په افغانستان کښې په ۱۹۲۲ کښې "مرکه د پښتو" نومې تنظيم په وجود کښې راغے او دغه رنګ په خپله نوې اډانه کښې دادبي تنظيمونو او جرګو جوړېدولړئ روانه شوه نن صبا په خيبر پښتونخوا، بلوچستان، افغانستان او کراچئ کښې په ګڼ شمېر کښې ادبي تنظيمونه او جرګې موجودي دي ـ د دې نه علاوه په متحده عرب امارات، دبئ، ابوظهبئ، قطر، سعودی عرب، حيدرآباد دکن، واشنګټن، برمنګم او جرمني کښې د پښتو ادبي جرګې موجودي دي .او د خپل وسه پوري د پښتو ژبې او ادب د پرمختګ، ترويج او خورونې لپاره کارکوي ـ

## سوات کښې د پښتوادبي جرګې تنظيمونه

دا يو منلے شوے حقيقت دے چې پښتو ژبه او ادب د همېشه نه د حکومتي او رياستي سرپرستئ نه محرومه پاتې شوي دي اول خو د پښتنو رياست او حکومت نۀ وي او که چرته په تاريخ کښې پښتنو ته ډېر لوئے حکومتونه او بادشاهتونه ترلاسه شوي هم دي نود بدمرغئ نۀ د پښتنو بادشاهانو د شاهي محلونو او دربارونو نه پښتو ژبه همېشه لرې پاتې شوې ده . د لودهيانو دهندوستان د بادشاهئ نه راوخله ترستر احمد شاه ابدالي پوري يو حاکم هم خپله ژبه پښتو د دربار او رياست ژبه نۀ ده ګرځولي که د تاريخ په اوږدو کښې چرته داسې مثال شته دے چې د کوم پښتون رياست سرکاري او رياستي ژبه پښتو وه نو دغه يواځينے رياست "رياست سوات " دے د پښتنو دغۀ رياست "رياست خداد يوسفزئ" سياسي قانون په پښتو ژبه کښې ليک دے د قاضيانو، تاهو فيصلې او تردې چې د بادشاه احکامات به پښتو ژبه کښې ليکلے شول .د رياست د دويم والي ميانګل عبدالحق جهانزېب د تاجپوشئ په موقعه به شاهي محل کښې يوه درنه سرکاري مشاعره کېده چې به پکښې والي پخپله

ناست وۀ . دغه مشاعرې ته به د پښتو لوئے لوئے شاعران راتلل او د حکومت لخوا به ورته قیمتي ډالۍ ورکړے کېدې د دغه مشاعرو نه علاوه به هم د پښتو لیکوالانو او شاعرانو ته په شاهي دربار کښې عزت ورکړے کېدے شۀ د دغه والي بله کار نامه دا هم وه چې دغه مشاعرې ئې په کتابي بڼه ترتیب کړي هم دي او دغه کتابونه د هر کال د مشاعرو په شاعرۍ مشتمل دي ـ "جهانزیبي مشاعرې" نن هم موجود دي چې دهغه وخت د ادبي فضاء او شاعرانو د معیار په اړه یو معیاري او باوري دستاویز هم دے ـ

د دغه لنډشان شاه لېد بیانولو مقصد دا وۀ چې ښکاره شي چې د پښتنو د نورو سیمو په مقابله کښې د سوات فضاء او معروضي حالات د پښتو ژبې او ادب د پرمختګ لپاره زیات ساز ګار او موزون وو خو د ریاست په دور کښې په سوات کښې کومې ادبي جرګې یا ټولنې وجود نۀ لرلو۔

په ۱۹۶۹ کښې د یوې لوظ نامې د لاندې د ریاست سوات ادغام په پاکستان کښې او کړے شۀ په پاکستان کښې داد غام نه وروستو د سوات د اولس ژوند د یونوي نظام سره مخامخ شو په نوي ریاست کښې د شمولیت سره نوي نوي اثرات راخوارۀ شول او یو شمېر زاړۀ قدرونه او روایتونه د مېنځه لاړل دغه اثرات په ژبه او ادب هم اوشول او کومه ژبه چې د ریاست ژبه وه هغې خپل هغه اهمیت په ریاستي ډهانچه کښې اوبائیله او دغه رنګ پښتو ژبه او ادب دواړه د ریاستي سرپرستۍ نه محرومه شول په دغه معروضي پس منظر کښې د هغه وخت د سوات شاعرانو او لیکوالودا ضرورت محسوس کړۀ چې د پښتو ژبې او ادب د ترویج لپاره اوس هغوی له پخپله منظم کېدل پکار دي یاده دې وي چې په دې دور کښې په سوات کښې د پښتو ژبې د شاعرانواو لیکوانو یوه معقوله شمېره موجوده وه دغه رنګ په سوات کښې د ضرورت د نظریې ترمخه ادبي تنظیم سازي اړخ ته پاملرنه اوکړے شوه په دې دور کښې د سوات نومورے خطاط او شاعر فضل الرحمان فیضان دسوات په ادبي فضاء خوروۀ . د هغۀ خواه له به دلرې لرې نه شاعران او ادیبان راتلل او ادبي غونډې او مشاعرې به هم کېدې . هم د فضل الرحمن فیضان په هڅو په سوات کښې وړومبۍ ادبي ټولنه یا جرګه په وجود کښې راغله چې نوم ئې "سوات ادبي ټولنه" وه دغه رنګ په سوات کښې د ادبي ټولنو د شروع کولو په کار کښې اولیت ښاغلی فضل الرحمن فیضان ته حاصل دے په دغه اړه د سوات نومورے تاریخ پوهه ،ادیب او ماهرلسانیات ښاغلے پروېش شاهین داسې وائي ـ

"د رياست سوات په پاکستان کښې د ادغام نه وروستو چې په سوات کښې کومه اولنۍ ادبي ټولنه په وجود کښې راغله دهغې نوم" سوات ادبي ټولنه" وۀ چې د فضل الرحمن فيضان صېب په کوششونو جوړه شوې وه سيف الملوک صديقي او عبدالغني قصاب او نور د دغه ټولنې عهده داران وو دا ټولنه په ۱۹۷۲ کښې جوړه شوي وه ـ"۱۳

د ورکړے شوې حوالي نه اندازه لګي چې د سوات اولنۍ ادبي ټولنه "سوات ادبي ټولنه" ده چې په ۱۹۷۲ کښې فضل الرحمن فيضان او دغه ملګرو جوړه کړے وه هم په دغه اړه د سوات نامورے نقاد او ليکوال عطاءالله جان ايډوکېټ وائي ـ

> "دسوات اولنے ادبي تنظيم سوات ادبي ټولنه دے دغې تنظيم د سوات ادبي فضاء ژوندۍ ساتلي ده او په سوات کښې ئې د پښتو ژبې او ادب د پرمختګ لپاره مهم کردار لريولے دے د فيضان سوات په مشرۍ کښې د دې ټولنې غړو د پښتو شعر و ادب کاروان روان ساتلے دے زيب سر، سيف الملوک صديقی او حليم سرحدي د دې ټولنې فعاله غړي وو۔" ۱۴

هم دغه خبره د سوات نامورے خطاط او شاعر چې د فضل الرحمن فيضان زوے دے شمس الاقبال شمس داسې کوي :

> "د سوات اولنۍ ادبي ټولنه "سوات ادبي ټولنه"ده چې په ۱۹۷۲ کښې جوړه شوي وه محمد جان لوهار د دې ټولنې سرپرست او فضل الرحمن فيضان د دې صدر وۀ ـ" ۱۵

د دې نه وروستو په ۱۹۸۴ کښې د فضل محمود روښان په هڅو په سوات کښې يوه بله ادبي ټولنه په وجود کښې راغله چې نوم ئې سوات "ادبي څانګه" دے هم په دغه کال د سوات "ادبي کاروان" په نوم يوه بله ادبي ټولنه هم په وجود کښې راغله دغه شان د خلکو رجحان دې طرفته راوګر ځېدواو پرله پسې ګڼ شمېر ادبي ټولنې او جرګې په وجود کښې راغلې او نن صبا په سوات کښې ګڼ شمېرادبي ټولنې د پښتو ژبې او ادب د پرمختګ لپاره هلې ځلې کوي د سوات د ادبي تنظيونو نومونه دا دي ـ

۱: سوات ادبي ټولنه

۲: سوات ادبي څانګه

۳: پښتو ادبي کاروان سوات

۴: ایلم پښتو ادبي ټولنه بریکوټ سوات

۵: جهانزیب کالج پښتو ادبي ټولنه

۶: نوے تېغ مینګوره سوات

۷: سوچه لیکوال سوات

۸: سواستو ارټ اینډ کلچر ایسوسي ایشن سوات

۹: دوکټ پښتو ادبي ترون

۱۰: یوسفزئ پښتو ادبي ټولنه سوات

۱۱: کبل ادبي ترون سوات

۱۲: مشال ادبي ټولنه مټه سوات

۱۳: پښتو ادبي غورځنګ سوات

۱۴: دستار ادبي ټولنه سوات

۱۵: سوات ادبي ترون سوات

۱۶: رڼا ادبي کاروان سوات

۱۷: سحر ادبي ټولنه کوزه بانډئ سوات

۱۸: ملګري لیکوالان سوات

۱۹: پښتو ادبي او کلتوري نړیواله جرګه سوات

۲۰: ژوندي لیکوال بري کوټ سوات

۲۱: ماندور ادبي ټولنه افضل خان لالا کالج مټه سوات

۲۲: اسلامی ادبي ټولنه سوات

۲۳: روڼ سحرادبي ټولنه سوات

۲۴: سوات ادبي الوت مټه سوات

۲۵: ادهیانه ادبي ټولنه خوازه خیله سوات

۲۶: جینکي خیل ادبي زغل

۲۷:زلمي ادبي ملګري سوات

۲۸:سوات ادبي ستوري سوات.

۲۹:سوات ادبي جرګه سوات.

۳۰:شعور ادبي کاروان

۳۱:مرغزار ادبي ټولنه سوات.

۳۲:مدین ادبي ټولنه مدین سوات.

۳۳:سوات ادبي غنچه سوات

۳۴:رڼا ادبي ټولنه سوات

۳۵:غورځنګ ادبي ټولنه شموزۍ سوات

## د سوات د ادبي ټولنو خدمات

دا یو منلے شوے حقیقت دے چې پښتو ادبي ټولنو او جرګو د پښتو ژبې اوادب د پرمختګ لپاره ترننه پورې مهم کردار لوبولے دے او د پښتو ژبې او ادب د ترویج لپاره ئې ګڼ ارخیزه زیار ترسره کړے دے نن که فصاء بدله ده او هر چرته د پښتو شعر و ادب تذکرې او غونډې کېږی نو یقینا چې د دې نه شا ته تر ټولو اهم کردار د پښتو ادبي ټولنو او جرګو دے هم دغه ټولنو پښتو ادب

ژوندے ساتلے دے او د پرمختګ په لاره ئې ورسم کړے دے او ترټولو مهمه دا چې په عام اولس کښې ئې د خپلې ژبې او کلتور په اړهٔ شعور بیدار کړے دے د سوات د ادبي جرګو او ټولنو خدمات هم ګڼ اړخیزدي او په لاندینو نکتوکښې دغه خدمات بیا نولے شي ـــ

۱: دغه ټولنو د عام اولس او لیکوالو تر مینځه د پل کردار ترسره کړے دے او د هغوئ تر مېنځه فاصله ئې کمه کړي ده ـ

۲: شاعرانو او لیکوالانو کار او تخلیقونه ئې اولس ته رسولي دي ـ

۳: هم دغه جرګو او ټولنو په اولس کښې ادبي شعور او ذوق ژوندے ساتلے دے ـ

۴: ادبي جرګو ادبي فضاء جوړه ساتلي ده او په هغې کښې ئې تحریک را پیدا کړے دے ـ

۵: دغه ادبي جرګو لیکوالو ته د روزنې او پالنې بنیادي شعور ورکړے دے او د هغوي تنقیدي پوهه ئې زیاته کړي ده ـ

۶: هم دغه جرګو د اولس د تنقیدی پوهې اصلاح هم کړي ده ـ

۷: دغه ادبي جرګو تخلیق کارانو له موقعه ورکړې ده چې د یو بل د تجربو او مشاهدو نه فائده واخلي ـ

۸: دغه جرګو او ټولنو په ګڼ شمېرکښې کتابونه هم چاپ کړي دي او د پښتو ادب پنګه ئې درنه کړې ده ـ

۹: دغه ادبي جرګود سیمنارونوکانفسرنو د لارې د څېړنې رجحان هم عام کړےدے ـ

۱۰: دغه ادبي جرګو د تنقیدي ناستو او غونډو د لارې د تنقیدي ادب د پرمختګ لپاره هم بنیادي کردار ادا کړے دے ـ

۱۱: د ژبو په حواله د برداشت د پیدا کولو په لړ کښې هم ددغه ټولنو کردار مهم دے ـ

۱۲: دغه ټولنو د مشاعرو روایت په اولس کښې مقبول کړے دے ـ

۱۳: هم دغه ټولنو د ادبي اېوارډونو د لارې د پښتنو ليکوالو د حوصلې زياتوالو په لړ کښې هم بنيادي کردار ادا کړے دے ـ

۱۴:دغه ټولنو په پښتو کښې د تذکره نګارۍ صنف تر ننه ژوندے ساتلے دے او ګڼ شمېر معياري تذکرې ئې د پښتو ژبې جولۍ ته سپارلې دي ـ

مونږه په لنډه داسې وئيلے شو چې د پښتو ژبې او ادب د پرمختګ لپاره د دې ټولنو او جرګو کار دومره اساسي او مهم دے چې کله هم او په هيڅ جوړ تري سترګې نۀ شي پټېدے او نۀ ئې د اهميت نه انکار ممکن دے ـ

## د ټولنو د کار په لار کښې خنډان

په تنظيمي حواله چې کوم عنصرد يو تنظيم يا ټولنې په لار کښې ترټونو لوئې خنډ وي هغه مالي وسائيل وي او چونکې تقريبا دغه ټولې ادبي جرګې او ټولنې کوم مالي وسائيل نۀ لري ځکه نو دغه د هغوۍ د کار په لړ کښې ترټولو لوئې خنډ دے ـ ګڼ شمېر تنظيمونه داسې دي چې غړي ئې په خپله مرضۍ په ځان چنده مقرره وي خو اکثر ادبي جرګې او ټولنې د چندې هم کوم باقاعده نظام نۀ لري او دغه رنګ هغه مهم کارونه او هلې ځلې چې مالي وسيلوته اړيتا لري د دغه ټولنو نه پاتې شي وجه ئې فقط د مالي وسيلو نشتوالے وي ـ

دغه رنګ ګڼ شمير ادبي جرګې او مرکې د نفرت او کرکې په بنياد په وجود کښې راغلي دي او دغه رنګ د ليکوالو ترمېنځه د منفي مسابقت جذبې خواره وي چې د ليکوالو سره سره د ادب هم په ګټه کښې نۀ دي ـ د دې سره سره دا خبره هم ښکاره ده چې د ګڼ شمير ادبي جرګو او ټولنو تنظيمي جوړښت کمزور دے او يو خاص شخصيت هغه ټوله جرګه قابو کوي چې د تنظيمي جوړښت په لاره کښې هم خنډ دے او دغه رنګ دغه عمل جمهوري روئې هم پرمختګ ته نۀ پرېږدي دلته دا خبره هم ضروري ده چې د دغه ټولنو په کار او زيار کښې باقاعدګي اوتسلسل نشته او د هغوۍ کار په منظمه طريقه مخ په وړاندي نۀ ځي بلکي ګډوډ او منتشرپه مخه روان دے ـ

يو شمير ټولنې او جرګې فقط مشاعرونه محدودي دي او د تنقيد او تحقيق په لړ کښې څه کار نۀ کوي په دغه اړه د سواستو ارټ اينډ کلچر ايسوسی ايشين مشر عثمان اولس ياروائي ۔

"اګر چې د ادبي فضاء په جوړولو او ادبي شعور او ذوق په ژوندي ساتلو کښې د ادبي جرګو او ټولنو کار ډير بنيادي دے خو دهغوئ په کار کښې د باقاعدګۍ کمے دے د هغوي تنظيمي جوړښت کمزورے دے او هغوي تراوسه نۀ دي بريالي شوي چې ځانته مالي وسائيل پيدا کړي هم دغه محرکات دي چې د ادبي ټولنو کار او زيار ئې متاثره کړے دے ۔"۱۶

دغه رنګ دا خبره ښکاره کيږي چې اګر چې دغه ادبي ټولنې او جرګې د خپل وجود ښه معقول تعداد او تاريخ لري او ګڼ اړخيزه ادبي خدمات ئې هم ترسره کړي دي خو اوس هم د هغوي په تنظيمي جوړښت کښې کمۍ شته او ورسره دهغوي په کار کښې باقاعدګي اوتسلسل هم پکار دے چې تراوسه ئې کمي محسوسيږي ۔

## موندنې

۱: د پښتود ادبي د پرمختګ لپاره د ادبي ټولنو کار ډير مهم دے ۔

۲: د پښتو ادبي جرګو او ټولنو روايت د ډير دېخوانه د پښتنو په زمکه موجود دے ۔

۳: د سوات اولنۍ ادبي ټولنه "سوات ادبي ټولنه" ده چې فضل الرحمان فيضان جوړه کړي وه ۔

۴: سوات ادبي ټولنه په ۱۹۷۲ء کښې په وجود کښې راغلي ده ۔

۵: په سوات کښې تردې دمه ۳۴ ادبي ټولنې او تنظيمونه کار کوي ۔

۶: په سوات کښې د پښتو ادب او ژبې د پرمختګ لپاره د ادبي جرګو کار ډير بنيادي او اهم دے او په دغه لړ کښې د دغه ټولنو خدمات ډير زيات دي ۔

۷: د سوات د ادبي جرګو د کار په لار کښې د مالی وسيلو کمے، د تنظيمی جوړښت کمزورۍ، منفي روئې او په کار کښې د باقاعدګۍ اوتسلسل کمے ترټولو غټ خنډان او روکاوټونه دي ۔

## ماخذونه

۱: https: //www. References. Com accessed on 3.09.2016.

۲: www.dictionary. Cambridge/ Org dictionary, accessed on 03.09.2016

۳: www. Study lecture notes. Com. Accessed on 03.09.2016

۴: Ibid.

۵: Ibid.

۶: Ibid.

۷: www. Google. Com. Pk accessed on 15.09.2016.

۸: www. Businessdictionary.Com, Accessed on 15.09.2016.

۹: https //en Wikipedia. Org،accessed on 15.09.2016.

۱۰: طاهر، محمدنواز، پروفېسر (پېش لفظ) مشموله "په صوبه سرحد کښې د مختلفو ادبي ټولنو او جرګو تنظمونه او د هغوي کار"، محمد جاوید خلیل، ۱۹۹۴، پېښور، پښتو اکېډمي، مخ ۱۲۔

۱۱: هم دغه ، مخ ۲۵

۱۲: هم دغه ، مخ ۲۶

۱۳: شاهین،محمدپروېش،مرکه (مخ په مخ) نورکمپوزنګ سنټر،مینګوره،سوات، ۲۵، مئي،۲۰۱۶۔

۱۴: ایډوکېټ،عطاء الله جان،مرکه (مخ په مخ) ،ضلعي،عدالتونه،سوات، ۲، مئي ، ۲۰۱۶۔

۱۵: شمس،شمس الاقبال،مرکه (مخ په مخ) ، ضلعي،عدالتونه،سوات، ۲۰، ،مئي ، ۲۰۱۶۔

۱۶: اولس یار،عثمان،مرکه (مخ په مخ) ښایئسته کورونه،سیدوشریف،سوات ، ۱۱، ستمبر۲۰۱۶۔